مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالخالق رشید

۲۰۲۳/۰۹/۰۳

الله گل دانه دانه ، دانه دانه
شوروي قارکده نمیره خانه
الله گل دانه دانه

*
*
**
***
****
********
*************



# د مرسلي پرسر ستوري

## (ناول)

اتمه برخه

۱۹۸۰ ـ ۱۹۸۶ کلونه

لیکوال

ع .رشید



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

دمرسلي د واده شپې ورځي...
سم ملا آذان چغي کړاوسم نادرجان اوکرچکوف ته موټرودريد اودخپلي قرارګاه پرلور وخوځيدل ...لا تياره وه، دموټر ځراغونه لګيدل چي حرکت يي وکړ... په همدغه شپه روسي ځواکونو ته ديرغل قومانده ورکړشوې وه. داخل روسان سم تياری نيولی و،پلي پوځونه،شوبلي، توپونه داټول ډيرزيات په پام کي نيول شوي وو.الوتکي هم دکابل اوباګرام په هوايي ډګرونوکي تيارسی شوې وې،يوې ډلي ځواکونو خوان دشپې خپل خواره واره عمليات پيل کړي وو،خو يوشميرنورهم دتياري په حال کي وو، نادرجان اوکرچکوف هم ورسره مل شول،کرچکوف ته هرڅه له پخوا په ډاګه وو، همداوه چي ځوځولې يي نادرجان ته ويلي ووچي بايد زرځانونه په همدغه شپه کي قرارګاه ته ورسوي ،خو داچي ډيره تياروه اوخطرهم ورسره مل وچا اجازه نه وه ورکړې.
روسانو داخل فکرکاوه چي دوی به داخل هم دافغانانو له مقاومت سره مخامخ شي،ځکه دوی هم په دغه باره کي زيات راپورونه ترلاسه کړي وو چي په دغو ورځوکي امريکا مجاهدينو ته هم نوې او پرمختللي وسلي ورسپارلي وې،ځکه خودهغودعملی کولو تجربه هم په مخ کي وه اوغوښتل يي د هغو په کارولو سره د روسي ځواکونو په پياوړتيا کي په فزيکي او مورالی لحاظ يوه ګډوډي رامنځ ته کړي.
داخل داعمليات هم دغزني اوشاوخوا ولايتونوپرلنډو،اوږدو کي پيل شول ځکه د دوی مخه هم دغزني پرلور وه،دوی چي له غزني هم خپل عمليات مياشت مخکي پيل کړي وو ، پرهغه مهال هم دوی له سخت مقاومت سره مخامخ شوي وو،ځکه خويې داخل خپل عمليات په پراخه کچه نيولي وو.خومجاهدينوبرعکس داخل خپل پلان بدل کړی وهغوی ته د کرچکوف په شان کسانواوناراضوخلقيانوله خولي دا خبره په ناګاره توګه دوخته رسيدلي وه،ځکه نو يي داخل دمخامخ جګړې پرځای ټول زورپردغه ټکي اچولی و چي بايد شوبلو او ګاډو ته دمينوپه ايښودوسره بسنه کړي وه.
او روسان په دغو عملياتوکي له خپلو پوځونو سره په پرتم مخ په وړاندې روان وو،اوږده کتاريي دچا خبره د سړي سترګي سپينولي چورلکي يوه پربله پسي لکه چتروربانډې رواني وې،په هرولسو اوشلو دقيقو کي په پرمختللو جنګي جټ الوتکي لکه بريښنا پرې را وغريدي،لوی لوی قومانداناڼ هم د کتار په منځ کي اوسرکي په خوندی توګه ځای پرځای شوي ول اوخپل خپل ځواکونه يي په هره خواکي لارښونه کول.کرچکوف هم له خپلي ډلي سره يوځای په همدغه کتارکي روان و.دنژدې نيمي ورځي په اوږدو کي بياهم چا پرکتار باندې يرغل ونه کړ، په همدومره موده کي يوازې درې جګړييز ماشينونه ، اته موټرونه ماينونوهلی او له کاره لويدلي وو،خود سر زيان تراوسه هم لا نه و.د روسانو داعادت و چي کوم موټرونه اوآن ټانکونه به په لاره کي ورخراب شول او يا به مجاهدينو له کاره واچول،هغه به يې ځای پرځای پريښودل اويابه يي له منځه وړل خو نورخوک هغه د دوی پرضد ونه کاروي .همدا لامل و چي په ګرد افغانستان کي داسي سيمه او داسي سړک نه و چي پرهغه به له کاره لويدلي ټانکونه او نورې درني وسلي نه ترسترګوکيدې.
دکرچکوف دوی په موټرکي يوه مخابره داسي هم وه چي فريکانس يي د کتارله لوی قومانداڼ اودشوروي ځواکونوله مشرقومانداڼ سره تړلي و، چي هره شيبه به يي د روان حالت په اړه راپورونه ترلاسه کول، لکه چي يو ځل يي داهم وپوښتل:
- هلو... څه خبره ده چي داخل بسمچي اشرار مقاومت نه کوي ؟
خوپه ځواب کي ورته وويل شول:
- موږ هم نه پوهيږو،مخ په وړاندې روان يو، يوازې ماينونه دي چي هرې خواته ايښودل شوي اوبس...
- ښکاري چي بسمچي زموږ پرپلان اوعملياتو خبرشوي دي...
- زيات فکر همداسي کيږي،ځکه هيڅ ډول مخامخ مقابله نه ترسترګو کيږي...
خو شيبه لانه وه وتلي چي په مخابره کي بيا غږ وبونګيده:
- هلو ، هلو د شوروي ځواکونو لوی قومانداڼ خبري کوي...
- هوايي کشفي ځواکونه هم دا راپور راکوي چي دلارې په اوږدوکي هم دکوم خطرنښي نښاني نه ترسترګوکيږي ...امر دی چي په دغه برخه کي زر ترزره معلومات ترلاسه اوخبره روښانه کړئ ... په دغه اړه د دقيقو نښو نښانو له مخي داخبره په ګوته کړئ چي داکارولي ترسره شوې ... د شکمنوکسانونومونه اوپه دغه اړه ټول لاملونه اواسناد ...
- امر عملي کيږي...
ددغي خبرې په اوريدو سره د کرچکوف غوږونو کړنګ وهل ....ځکه دی يوازنی روسی چاړواکی وچي له افغانانوسره يي د دندې له مخي دا واک اوځواک درلود چي بايد له هغوی سره راشه او درشه ولري ، ده که څه هم دا واک درلود چي بايد له


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

هغوی سره آزاده ناسته ولاړه ترسره کړي خو یوه خبره چې له ده سره وه ، هغه داوه چې ده په افغانستان کې د خپل نظام په کړو وړو باندې باور نه درلود ، ځکه یې له کړنو دا ښکاریده چې، له دې ټولو سره سره چې ډیرواک اوځواک یې درلود خو بیاهم د زړه له کومې خپل نظام ته وفادار چارواکی نه و، دی په دې اند وچې د دوی د نارواوو له امله به یوه ورځ دغم یوه درنه ډبره دده پرسرهم را پریوزي...په همدغه شیبه کې یې مخ دسیاسي کارکوونکو د ډلې نرسې ته ورواړاوه خپل لاس یې دهغې پرسپین اونرم ورغوي باندې کیښود او ورته موسکی شو:

ـ دښمن په پلان اوعملیاتو خبرشوی دا ولې ؟

هغې هم په بې پروایۍ سره ورته وویل:

ـ ښه دی چې دښمن خبرشوي،چې موږ په امن ترمرسلې ور واوړو.

مازدیګرلانه وچې عملیات نږدې د زرملې برې خواته رسیدلی وو، تردغه ځایه هم له یوځو ډزو پرته پردوی باندې چا دڅواب لپاره هم یوساده ډزونه کړ،همدلته یې کتاراوځواکونو ته د دریدو قومانده ورکړه،کتارهمدلته ودرول شو،شاوخوا سیمې ترڅارنې لاندې ونیول شوې ، یوې اوبلې خوا په سلګونو خیمې د سترګو په رپ کې وغوړیدې په منځ کې یې لویه خیمه په ډیره بیړه ودرول شوه،هغه خیمه چې هلته د کتاردلوړرتبه چارواکو بیړنۍ غونډه را بلل شوې وه... اوغونډه په بیړنۍ توګه همدلته جوړه شوه . دعملیاتواوکتار مشر قوماندان لنډه وینا وکړه چې لوی اومهم ټکي په کې داوو:

ـ دښمن ته چا راپوروړکړی،داطلاعاتو مسوول کسان باید دا کس اوکسان زر ترزره دڅیړنواو ګروېږنو پرلامل په ګوته کړي...دا په افغانستان کې دشوروي پوځونو دلوی قوماندان امر دی...

په دغه غونډه کې یو دوو نورو کسانو هم خبرې وکړې،هغوی هم په دغه اړه خپله خواشیني په ګوته کړې وه او دایي سره ویلي وو چې شوروي پوځ باید دومره هم بې نظمه نه وي چې یو جاسوس هم په خپلو لیکوکې ونه پیژني دوی په عین حال کې داخبره هم وکړه:

ـ دشوروي دپوځ دا شان رازونه په ډاګه کیدل دټول سوسیالزم راز په ډاګه کیدل دي ، تیرځل مو په څه ستونزوسره تردغه ځایه ځان را ورساوه ، خو دا ځل چې موږ غوښتل هغه ماته تلافي کړو، بیا پرمخ ولویدو،که موږ ددغو ستونزو مخه ونه نیسو،دا به ډیره ګرانه وي چې موږ به نوردلته د بریو پرلور ګامونه پورته کړای شو...

رینسکي هم په دغه غونډه کې وړاندیزکړی و:

ـ دټولو هغو کسانو نومونه اوراپورونه باید په نښه کړل شي،هغوی چې له افغانانو،له افغاني سرتیرواوعامو خلکو سره نا ستې پاستې اواړیکې لري ، ځکه چې زه باورلرم چې دا کار له نوموړو کسانو پرته بل چا نه دي ترسره کړي،هرڅه چې دي اوهرڅه چې شوي هغه دهمدغو کسانو له خوا شوي ... ددغو کسانو خبره باید سپینه شي...

دغه غونډه له لمرلویدو سره سمه پای ته ورسیده ...د زرملې نری خو یوڅه دوړن شمال پربدن باندې سوړسوړلګیده خو داسې نه لکه د ترینګلي ژمې سیلۍ چې پربدن له لګیدو سره یوخای خولې لګوي،ددغه موسم یخني دکوراویا خیمې تردروازې پورې وه، کله به چې تر دروازه ننوتې بیا به یې اغیزه نه وه ...هرې خواته خیمې ولاړې وې ،دکتارله هرې برخې د مازدیګري نري نري دودونه لکه دکلیودمازدیګریوپه شان نري نري پورته کیدل،دشوبلواو موټرونو کتارونه داسې ولاړووچې تا به ویل په دغه لویه دښته کې لوی کلي او یا یو لوی ښارجوړشوی دی.دکتار شپه په همدغه لویه دښته کې شوه، پرهغه شپه لا لس یوولس بجې نه وې شوې، چې له نژدې کلي دټوپکو ډزې واوریدل شوې،ټول کتارته دتیارسۍ امروشو، ټول روسي سرتیري ددې لپاره تیار شول چې باید پرمقابل لوري باندې یرغل وکړي،دوی لاهم دې ته سترګې په لاره ووچې که کومه ګولۍ پردوی را وولې، نوبیا به پرهغه لوري ورهی کیږي اویا به درنې درنۍ ګولۍ ان له دغه ځایه پرهغوی باندې په بې رحمۍ سره ور واچوي.روسانو همداسې یوه شیبه له خدایه پرآسمان غوښته خو خدای تیاره پرځمکه ورکړه ،ځکه یې پرته له دې چې پردوی باندې ګوزارراوشي، د درنو درنو ګولیو ګوزارونه پیل کړل،خوله هغې خوایي دخپلو درنو ګولیو په ځواب کې دیوې ساده ګولۍ او پاریدنې نښه هم نه ولیده اونه یې واوریده،ځکه خو پوځیانو ته امروشو چې باید کلي په بیړني ډول محاصره اوهغه چا چې ډزې کړې دي هغوی باید ونیول شی...

د دوی دا قومانده د سترګو په رپ کې عملي شوه،کلي محاصره شو، کلیوالو نن په خپل کلي کې واده درلود،دکلي د مشر د زوی واده و،خلکودهغه د واده دخوښیو پرلامل ګولۍ ویشتلې وې، روسان چې کله پرکلي ورننوتل د ډزوعاملین یې غوښتل،خو کلیوالو پرې خندل،ټول کلیوال پررا ټول شول او ورته ویې ویل چې موږخپله دود لرو، خپلې خوښې لرو،هغه د ډزو په کولو سره نمانځو،دا ددې مانا نه لري چې زموږ د ډزو موخه اوهدف تاسې واست، موږ پرتاسو باندې خبرهم نه یو چې له کومې خوا راغلئ او پرکومه خوا ځئ ... موضوع د کتار قوماندان ته ورمخابره شوه،ځکه یې بیرته امر وکړ چې باید خپلې قرارګاه ته راستانه شي ... هغوی راستانه شول او هغه شپه نوره تر سهاره پورې د دوی لپاره یوه آرامه شپه وه...

سهاروختي همدغه لوی پوځي کتارد مرسلې پرلورداسې چې لکه شپې وهلی نشه یی روان شو، تراوسه هم غوږ پرآوازوو چې که له کومې خوا کوم ناڅاپي ډزورباندې وشی،دټولې ورځې په اوږدو کې له یوې خوا هم کوم ډزورباندې ونه شو ... لوړ مازدیګروچې دکرچکوف اوانینا (دسیاسی څانګې نرسې) سترګې پردنګه مرسله باندې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ولګيدې، دانينا پرشونډو باندې موسکا راغبرګه شوه او کرچکوف ته يې په مينه ناکو سترګو کې وکتل او ورته وېې ويل:

ـ هرکله چې مې سترګې پرمرسله ولګيږي، زړه مې باغ باغ شي،نه پوهيږم چې ددغې هسکې اود شنواوبودمنځ په دغه لوړه کې کوم سحرکوم جادو دی، پرما مرسله ښه لګيږي ، اوچې ورته ګورم باور وکړه چې زړګی مې پرې تکيه او ډاډه وي ... هو،مرسله دزړونو تکيه ګاه ده...

کرچکوف هم په همدغې ناروغئ اخته و، همداوه چې ددې خبروته يې سروښوراوه او ويې ويل:

ـ ته رښتيا وايې مرسله پرما هم ښه لګيږي، دشلګر دسيمې د خلکو په منځ کې هم دمرسلې په اړه دهيلو اواميدونو ډيرې خبرې شته دي ، يوه په کې داهم ده چې وايي دا غونډۍ د محمد ص څلورم يارعلي د جلې او فرات له شاوخوا څخه دلته راغورځولې ده، دوی وايې چې هغه دا کار له ډيره قهره ترسره کړي خواوس يې هغه قهر پريوه تلپاتې مينه باندې اوښتی دی ... ان دادې وګوره چې زموږمينه هم چې له هرې خوا مو سترګې پرې ولګيږي ورکاږي ...او لکه دځايی خلکو په شان سمه را باندې لګيږي اوزموږ هسې ليدوته هم مينه راکوي...

انينا چې په ځيرځير يې کرچکوف ته کتل،له هغه پوښتنه وکړه:

ـ ته دهغې ځنګ ته ورغلی يې ؟

ـ نه، خو ما يوځل دهغې ننداره په پسرلي کې له چورلکې د سپرلی پرمهال کړې ده،ما دهغې يوه برخه د پسرلنيو ګلونو په رنګونو پټه وليده، له ځان سره مې زيات افسوس کاوه چې دهغې ددغه ګلورين موسم يوانځورخومې اخيستی وای،هو يو يادګاري عکس،په تيره په هغو شپوورځوکې چې پسرلي وي ، په هغو شپوورځوکې چې په هغو کې دمرسلې د واده شپې وي...

انينا چې دمرسلې دومره ستاينه واوريده، دچا خبره ورته ټکنی غونډې شوه ، خندا ورغله او کرچکوف ته يې وويل :

-له لرې لرې خو دومره ښکلې نه ښکاري، لکه چې ته يې په ستاينه نه مړيږې.

ـ که ژوندي پاتې شوو او دسروتوطيو ښکارنه شوو، اونصيب و راتلونکی پسرلی به يې بيا ننداري ته ورځو اوهلته به يادګاري عکسونه اخلو اوشوروي ته به يې ليږو...

دانينا سترګې ځوواري نورې هم په هغه کې ونښتې، هغې ته يې دخپل موټرله هنداري په ځيرځير وکتل او مرسلې په باب يې داهم زړه ته ورغلي وه:

ـ کاشکي علي،دازموږ (سوخومي ) ته راغورځولې وای،هلته چې خلک يې اوس جګړه نه پيژني،هلته چې هرڅه ښکلي دي او هلته چې...

سره له دې چې مرسله دومره ښکلې اود زياتي پاملرنې وړ لوړه نه وه ، چې هغې ته بايد سړی د ښکلا دبيلګې نوم ورکړي،داچې پر روسي سرتيرو باندې ګرانه وه دهغې لامل داوچې دهغې په لويديزه خوا کې د دوی ځواکونه د اوږدې مودې لپاره ځای پرځای شوي وو، دشاوخواکليواو سيمونومونه، نه وو معلوم ، له هرې خوا به چې دمقاومت زلمو پسې راواخستل او سترګې به يې پردې ولګيدې په ځيرو کې به يې وينه وچليده اودهيلوکاروان به يې د ډاډ احساس وکړ ... بله داچې غزنی ته د سړکونو له لارې د روسانودکاروانواوکتارو رسيدل په خپله د کوه قاف مزل واوترهغه ځايه رسيدو هم دجادويی وسيلو غوښتنه کوله ، همداوه چې دا ځوکاله داسې کتار چا نه و ليدلی چې ترمرسلې پورې به له ماتو اوسري زيانو پرته رسيدلي وي،ځکه خو په دغو شپو ورځوکې له غزنی ترکابله او ياهم له کابله تردغه ځايه تګ را تګ اوجوړرسيدل هم يوازې دقسمت خبره وه ، کوم سرتيري به چې له خپلې قرارګاه وتل، هغوی خپل لاسونو له ژونده مينځل،ترڅوبه چې بيرته راستنيدل ترهغوبه يې مرګونو برخليکونوته انتظاريوست، د دوی لپاره د ژوند زيري هغه مهال هرکلی وايه چې خپلې قرارګاه ته به رانژدي شول، په همدغه حالت کې به چې له هرې خوا راتلل په لومړي کتوکې به يې سترګې پرمرسله لګيدې ...دهغې پرلوړتيا،ځکه خومرسله اوس دوی ته د ژوند او آرامۍ پرلورد رسيدوتکيه ځاي اودمه ځای ښکاريده،همداوه چې ښه پرې لګيده ، ښکلې ورته ښکاريده ...دهر روسي سرتيري به چې سترګې پرې ولګيدې داسې به ورته خوشاله ولکه چې يوانسان له اوږدې مودې وروسته خپله مورګوري اوددې پرليدوبه يې لکه له وطنه دورکو افسانوي اتلانو په توګه يونا ښاپه له خولې راووتل :

-مور ... مور... مرسله ... مرسله ..... مرسله ... !!!؟؟؟

پاتې لري...



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ